**لیکونکی**: ریچارد دی اولف (Richard D Wolff) .
**منبع اودخپریدو نیټه** : کونتر پانچ «۷-۳-۲۰۱۷» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# ټرومپ اودپانګوالي ژغورنه

## Trump and saving Capitalism

توما س پیکتي (Thomas Pikety) پخپل نوی تالیف شوی کتاب کي داسي یادونه کوی : دیویشتمی پیړی پانګوالي دعایداتو د کچي د خرابید و اود پانګي یا د شتمنی د نابرابری پرلوری مخه کړی یا په میلان کی دي کوم چي داوسني پانګوالي دلاسته راوړنوڅخه یوه هم مرحلوی (دوره یي) سیا سي چا ود نـي اود خلکو غوسه اود کرکی راپا رول دي اوهغه داچي خلک بیا له سره دهغو کسانو ضد اومخالف خواته وړي کوم چي هغه کسان د نا برابری ،سیا سي فساد ، اود اجتماعی اختلا فاتو دکچي شد ت ته په تلپا تي بڼی سره لمن وهی ، سیا ستوالوکوم چي په دغه اوسني شیبو کی له پرګنو څخه دنا وړي ګټی دترلاسه کولو څخه په پوره پوها وی سره ځا ن وړونکی اوبریا لی بولی نو له خپل کارونوڅخه خوښ دي اماهغو نوروسیاستوالوچی دخپلو ناکامیو اودما تي څخه سرټکوي او په دی حسرت کی ولویږی چي ولی مونږ په دغه مساعد و شیبو کی ونشو کړلی چي ګټی ترلاسه کړو ، دغه ډلی سیاستوال هغه کسان دي چي معمولاً د مدیرانو اود تشویق کونکو مشرانو اویا د عمده موظفو او رهبرانو په بڼه دپانګوالی په چوپړ کی ولویږی او په پر له پسی بڼی سره په هغو موسسا تو کی چی هلته زیات ګټی ګونی وی (یا چه بڼه معاش ورکوی) دکا رد ترلاسه کولو په لټه کی هڅه او اند ترسره کوي اوهغوی په عین زمان کي دخپل ناکامی او دما تی ددفاع په خاطر پرخپلو مخالفینو باندی ډېر شدید نیوکی او انتقاد کوي .

نن د نړی پانګوالي له کا ل (۲۰۰۸) څخه را په دي خوا د خپل دوهم پړاو د پوره ما تي اود سربېړ ا لي په چرخه کی راښکیل شوی دي ، او د لته مونږ ته د پانګوالي دهغه بی ساري ما تي څخه له کال (۱۹۲۹) څخه وروسته د بیا له سره کتنو یولړ درسونه راکوی اوهغه داچي دنابرابری دترکیب دلوړیدو په رامیځته کید و سره وضع او حالت دسقوط اود راپرځید و (فروپاشي) ځواته مخه کړي کوم چی دخلکو زغم بلکل له مینځه وړلی اود خلکو دخصومت کچه د پانګوالی په مقابل کي خپل لوړي څوکي ته رسولی دي – مګر بیاهم دسرمایه داری د سیستم د پلویا نو هڅی اواند په دی کی دی چي خلکو ته د خپلو تشو وعد و په ورکولو سره چي ګواکی هغوی دغه بحران او نا

برابری بیرته له سره بهبودی خواته ته را کا ږي متقاعد او خوش با وره وګرځوی کوم چې دخلکو دخصومت کچه دسرما یه داری په وړاندی کمه کړي ، په یاد باید ولرو اوهغه داچې موسولینی(Mussolini) او هیټلر (Hitler) دهغه وخت د بحرانی اقتصاد دسمون اود بهبودی د پاره مختلفی لاری خپله کړل ، هغوی دواړه د اقتصادی بحران او نابرابری په اړین خپل همد ردی د پا نګوالو سره وښودل اودهغی وخت پر سیا سیی ګوندونو با ندی بولړ شد ید نیوکی او انتقاد و کړل- اود دغی ستونزی د مینځه وړلو اود موجوده نااړوند سیستم خلکو ته دخد مت کولو جریان د شنډ لوپه منظورله رای ورکونکو څخه وغوښتل چې هغوی ته خپل رای وکا روی تر څو چې هغوی د ځوا کمنو رهبرانو موقف تر لاسه کړی اوبیا هغوی ټول موجوده ناخوالي له بیخه څخه اوبا سی اودهغه پر ځای د خپل خوښی سیستم را مینځته کړی چې خلک په ارامه بنی سره ژوند وکړي هغوی وروسته دځواکمن کیدو څخه بیا هم ددوهم ځل د پاره خلکو ته د ښه خدمت کولو پرځای نا وړي چلند خپله کړل ، اوخپل ځا نونه یې دخپل هیوادونو د بیرق په ټوکر کی راوپیچول اونور ټول خلک یې د خپل ناسیونا لیزم اویا د ملی ګرایي درژیم په مظاهرو کی رابنکیل کړل.

سرمایه داری خپله پخبله په هیڅ یو بنی سره ستونزمن نه دي ، بلکه ددی دپاره چې دغه سیستم دخلکو به چوپړکی ولویږی پکار دی چي دهغه څیره او اغیزمنی ته بد لون ورکړشي اویا دخلکو دغوښتنو سره له سره تنظیم شی کوم چې دغه سیستم دخپل تاریخ په اوږدو کی څو څو واری څیره بد له کړي دي اوداځکه چې د پانګوالی په هر بحران کی د خلکو د نا سونیالیزم په کچه کی زیا تی او کمی راغلی او دخلکو غوسه را پارول شوی دي .

اوس دونالد ترومپ غواړی چې دپانګوالی تاریخ له سره تکرار کړي او دهغه د سقوط مخه ونیسی اوداځکه چې دامریکي په متحده ایالاتو کی د(۱۹۷۰) کال څخه را وروسته دعا یداتو اود شتمنی په کچه کی د یر ژور نا برابری رامینځته شو او په کال (۲۰۰۸) کی دغه نابرابری اویا دغه رکود خپل اخری څوکی ته ځان ورسول کوم چې دامریکی د متحده ایالاتود د موکرات ګوند لوړ پوړی بی له کوم ځنډ څخه د دی بحران د مخنیوی اودهغه دپراخید و په لټه کی یوه شیبه هم تم نشو خو لاکن د پوره هڅی او اند سره ونه توانید ل چې دغه بحران ته د پای ټکی کیږدي دبلی خوا څخه دامریکی دمتحده ایالاتو جمهوریخواهان داسی وړاند یز وکړ چې د دی بحران د له مینځه وړلو دپاره لازم او ضروربریښی چې د سرما یه داری د آزاد فعالیت د پاره دما لیا تو په کچه کی ټیټوالی راوړل شي اوهم ځنی دولتی مقرارت چې دپانګوالی د فعالیتونو په مخ کي خنډ یږی هغه مقررات دی با ید له مینځه ویوړل شی – اما دتولنې زیا ته برخه بیا هم دهغه تیر تجربو په لرلو سره دی حا لت سره لاس په ګریوان شو چې ددغه (ورته زوړ) ټولنیز اقتصادی بحران څخه ځان خلاص نکړل هغسی کوم چې برنی سند رز (Bernie Sanders)

غوښتل چې ددی بحران د مخنیوی د پاره څه وکړی چې دونالاد ترومپ اوس یی وکړي دموکرا تا نو په دی با ندی بریا لی شو چی **برنی سندرز** کمزوره کړی اما برعکس جمهوریخواهان د دونالد ترومپ په تضعیفولو کی پا تي راغلل .

دونالد ترومپ په یوخبری نا سته کی داسي څرګند کړچي مخکی له هر څه نه په لمړی قدم کی مونږ نشو کولای چې امریکا له جرمنی څخه داکٹرو مواردو په نظر کی نیولو سره په یوه لیری واټن کی وسا تو اوداځکه چی ددی دواړو هیوادونو شعار (غوښتنی) سره یوه ستراتیژیکی خواستی او شعار دی . دبلی خوا څخه با ید په یاد راوړو چی په کال (۱۹۷۰) کی د پا نګوالي دټولنو په خرابولو اوتخریبولو کی د ټولني کمزور او بی وسه برخي (په ځانګړی بڼی سره دشوروی اتحاد دنوی سیستم په سیوری کي) دتهد ید او دګواښ سره سره بیاهم سرمایه داری سیستم ژوندي پا تی شو اوبیا وروسته له هغه په کال (۲۰۰۰) کی دغه د سرما یه داری نظام دورته تهد ید او ګواښ سره مخامخ شو چی مونږ اوتاسی اوس دهمدی بحران سره لاس په ګریوان یو- له یا ده با ید ونه با سو چي د پانګوالي د سیستم په دواړو بحران کي ستراتیژیکی ځواب د اقتصادی نا سیونا لیزم د لوړځپو« موجونو) سره مل غبرګون وه اما د سرما یه داری د بقا اود ژوندي پا تي کیدو پلویانو دپه غوسه شوي پرګنو داذها نو دانحراف په منظور دهغه ژور نا بربری له امله کوم چي د داخلی نښتو امکان ورل کیدل نه ستړي کیدونکي هلي خلي تر سره شو کوم چي هغوی په دي باندی بریا لی شو چي په وضع باندی لاس بری پیدا کړی یعنی وشو کړلی چي یوځه بهبودی راولی اوهغه داچي دغه دپا نګوالي پلویانو دپرګنو دغوسی دله مینځه وړلو دپا ره دهغوی پام په د ستوری بنی سره ناسیونالیزم ته واړول یعنی پرګنی یی دناسیونالیزم په لومه کی راښکیل کړل اودهغوی په خاطرو کی هغه خوږی تیر شوی ورځی له سره بیا را ژوندي کړ لکه چی دالما نیا نو د پاره درایش تاګ (Reich tags) ورخي اود امریکا یا نو د پاره ( again Great America) لوی امریکا اوپه دی شان دخارجی ګټو اخیستونکو ته دسزاورکونی تګ لاره غوره کړل.

د ناسیونا لیزم په دغه پروګرام کی کوم چي د هغوی هد ف دهیواد په دننه کی «خارجیان» دی دغه د سرمایه داری ملاتړو په دی تا زه وختونو کی غیراریا یی مهاجرانو ته په المان کي اوپه ځانګړي بڼه اسپانیا یی مهاجرانو ته په امریکا کي دملیمنو رنګ او څیره ورکوی اوداسی تفسیروی چي دغه مهاجران زمونږ د میلمه پا لنی څخه ناوړی ګټي پورته کوی اومونږ ته یولږ اقتصا دی کړاونه او ستونزی را مینځته کړي اوددی خارجي میلمانو له اهداف څخه یوهم دهیواد څخه دباندی دادی چي مونږ یی دنا وړو معاهداتو ، بد سلوکي اوبد معاملګی سره مخامخ کړی یو کوم چي دهمدی ډول کړني په پایله کي یو نوی ځواکمن رهبر له مینځه وړی اویا هغه پیاوړی رهبر بی ځایه کوي نود همدی پورتنیو یادونو څخه دی نتیجی ته رسیږو چي دهټلر اود دونالد

ترومپ د موازی ستراتیژی د تشا به اود ورتوالی څخه نه با ید سترګي پټی شي اویا له هغه څخه ډ یر اغماض وشي .

ښایی چي دهغوی (د هتلراود دونا لد ترومپ ) برابری د هرڅه نه تر ټولو مهم دهغو زړه ورتیا په اعتراف کی وي اوهغه داچي ددوی دواړو اصلی هد ف له سقوط څخه د پا نګوالی ژغورنه اود نوموړی سیستم د عمر اوږدوالی څخه بل شي نه وه اونه به وي اوداځکه چي دغه سیستم د پرګنو ترمینځ د نه برابری له امله غوسه راپا روي او له دي سیستم څخه سرټکوی اودهغه د نه ثبات له وجهی خلکو تل د اقتصادی بحران اورکود سره لاس په ګریوان کیږي کوم چي دغه سیستم د دی ډول عیب او نقص په لرلو سره نشي کولاي چی دپرګنو ژوند ته سمون ورکړي له بلی خوا څخه دغه دواړه رهبران په دی پوره با ور لری چي په سرمایه داری نظام کي معمولاً تولیدی موسسات اونهادونه لکه په فابریکو ، شعبا تو ، مغازو اوپه ډیرو نورو تولیدی سا حا تو کی یو کوچنی ګروپ دفابریکو اویا دتولیدی موسسا تو مد یران اود نوموړی موسسا تو خاوندان د تولید په روند کی کارګران مزدبګیر په کار ګماری او پر هغو با ندی خپل هر اړخیز کنترول جاری سا تي اودغه دواړه رهبران بلکل په دی باندی پوهیږی چی د کار فرما اود کارګر ترمینځ اړیکی دتولید اصلی روند جوړوی اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره داریاب اودمزدور دسازمانونو دمخکینی مشرانو ورته چلند په مطلق وفاداری سره بیاله سره تکراروی اوهغه داچي(هیټلر او دونالد ترومپ) دپانګوالي دکارفرما اود کارمند دجوړښت مودل دسا تنی دپاره بلکل خپل ژمنتیا ښکاره کوي ځکه چي هغوی مخکی له هریو پوښتنی څخه د خپل بربنډ پوها وی په ادعا سره داسی فکرکوی چي بی له پا نګوالی نظا م څخه بل هیڅ یوداسی نظا م نه تر سترګو کیږی چي په تولیدی لحاظ د پانګوالي نظا م بد یل وګرځی .

دلته پر یوه مطلب باندي یو څه تم کیږو اوهغه داچي بی له کوم شک اوګمان پر ځای دی چی وویل شی اوهغه داچي دهیټلر اود دونالد ترومپ ترمینځ ځنی څرګند تفا وتونه شتون لری او یو له دی تفاوتونو څخه دادي چي هتلرد یو قوی سا زمان ورکړل شوی رادیکال سیا سی ځواکمن دالمان د کارګرانو د اتحادی او د سوسیالیست او د کمونیست ګوندونو سره په وحدت کی یو سازما ن ته خپل رغنده مخالفت او تقابل ښکاره کوي او دخپل هد ف ته درسید ودپاره له هرڅه نه مخکی دهغه نیت اوعزم د داخلی قوتونو ټکول او له مینځه وړلو وه حتی تر دخپل مخالفینو قتل عام پوري . حال داچي دونالد ترومپ دهیټلر په څیر په مقایسوی بڼی سره دکوم ښکاره ډیر دروند ستونزی او خنډ سره نه دی مخامخ – هیټلر ته ددی ضرورت احساس راپیداشوی وه چي هغه خیل قهرجن پلویانو ته امر ورکړی چي دالمان په دننه کي زر تر زره خارجی اتباع وپیژنی او بی له کوم ځنډ له المان څخه یی وشړي دهیټلر مقصد د خارجی اتباعو څخه یهود یان او ځنی په ګوښه شوی وړی خا رجی ګروپونه وه چي په المان کی مزدوری کول اما دونالد ترومپ

دامریکی په د ننه کی دهیټلر په پړتله د یو لوی قابل د ملاحظې خارجي مهاجرانو سره مخامخ دي چې په امریکا کي میشته دي د بلې خوا څخه دونالد ترومپ د هغوداخلی ګڼ شمیربشری ګروپونوسره مخامخ دی کوم چې هغوی دپانګوالی د نظام څخه سرټکوی او خپل بربنډ کرکه اوخصومت دنوموړی نظام په مقابل کي ښکاره کوی نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دونالد ترومپ غواړی چې د تشو وعد و په ورکولو سره د خلکو اذهان د خپل په حا ل دزوال سرما یه داری نظام څخه بل خواته واړوی نو ددی مرام دتر سره کولو دپاره ښاغلی دونالد ترومپ مها جران تر خپل هد ف لاندی نیولی دی اوکه چیری دهغه ضرورت ولیدل شی چې مهاجران دی امریکی ته زړه ښه نکړی نو هغه دنورو سنتی مهاجرانو دسرزنش دپاره په یولړ اقداماتو باندی غواړی لاس پوری کړي .

بله رغنده او کلیدی توپیر دنړیوال څو ملیتی شرکتونو دلمن پراخوالی دی چې دپانګي اچوني اودبین المللی منا فعو دترلاسه کولو څخه په اوسنی حا لت کی له کا ل (۱۹۳۰) څخه را په دي خوا بی پاملرنه ا وتیت وېرک دی نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره دونالد ترومپ دی ته اړ با سی چې خپل داخلی مخالفین یا و ځپی اویا داچې هغوی دخپل اقتصادی نیشنلیزم په لومه کي راښکیل کړي البته چی زمان به د دی کړنی خرا بی په ګوته کړي .

هیټلر پخپله یو سیاسیی پیژندل شوی حزب درلود یعنی یوه ریښتینی وکړنی سازمان کوم چی د المان د ښی اود کین اړخو لویو سیا سی احزابو له خوا سره په رغنده بڼی پیژندل شوی یوه سازمان وه - حال داچی دونالد ترومپ هغه څه چې تر سره کوي دهغه په حا ل دتشویش مخالفت اود تضاد اړیکی دخپل جمهوریخواهان ګوند سره لری کوم چی کیدای شی چې په راتلونکي کي د دونالد ترومپ د نظریا تودیوګوند په بڼه د جمهوریخواها نو سره غبرګون شی ا ما د اموضوع پخبله اوږد پړاو او زمان ته ضرورت لری.

دونالد ترومپ دامریکا دبیکارانو دبیا په کار ګمارولو اودخلکو دښه عاید دسمون اودمیلیونو امریکایانو د امنیت اودمصونیت دفضا درامینځته کیدو دپاره ډیر لوی او په زړه پوری وعدی ورکړي دي - نو که چیري هغه ونشی کړلی چي خپل ورکړل شوی وعدی ترسره کړي اویا په ساده ګی سره دیوی ډلی امریکایي کارګرانو ډ لی د بلي ډ لی په هزینه او لګښتونو سره سمه کړی نو په هغه صورت کی هغه پخپله ځا نته دخلکو د ښمني به را وپاروی اویا داچي پخپل لاس به خلک د خپل ځان په مقابل کی تحریک کړي ، بارک اوباما په میلیونو امریکا یا ن د ناهیلو اودناامیدی سره په لرلو له سپینی ماڼی څخه پښی سپکی کړل او دهغو د هوسا ژوند د رامینځته کید و د پاره یوه ګام هم پورته نکړ نو اوس له موجوده حالاتو څخه داسی ښکا ری چي ډیر لیری نه دي چي دونالد ترومپ به هم لکه د**«اوباما»** په شان خلک په ناهیلی اونا امیدی کی به خوشی

*کړی اوزر تر زره داسي یوحا لت کوم چی اوس دهغه د پلویا نو اود خلکو له خوا تر سترګو کیږی رامینځته شی او وضع لا پسي له دی نه به هم بد تر شی .*

**---------------------------------------------- په د رنا وی «۲۰۱۷-۳-۹»**